لیکوال: سرلوخ مرادزی نیټه ۲۰-۱۲-۲۰۱۰

رغول شوې ستراتیژي او سپین سترګی پنجاب

ژمنې سره سم د امریکي ولسمشر اوباما افغانستان لپاره د امریکې بیا رغېدلې ستراتیژي اعلان کړه. دې ستراتیژۍ باندې د افغانانو او بهرنیانو خبرې او تبصرې روانې دي. هر هېواد د خپلو ځانګړوګټو او هر شناند د خپل لیدلوري څخه دا ستراتیژي څېړي او ارزوي. البته ستراتیژي یوازې د لارو، ګودرونو او وسیلو د ښودلو او په ګوته کولو یا د ننګونو اوستونځو ساده بیان نه دي بلکې د ننګونو او ستونځو د حل لپاره د لازمو تدبیرونو او اقداماتو ټولګه هم ده . که وړ او پرځای اقدامات ونشي یوازې د ستونځو بیان ګټه نلري.
په دې ستراتیژي کې ویل کیږي « د افغانستان جګړه لا هم یوه غوټه ده ، خو امریکا اوس هغه مسیر ته برابره شوې چې خپلې موخې ته ورسیږي. امریکا اوس د القاعدې چې پر هغه هېواد یې حمله کړې وه، د ګډوډولو لپاره د پامور پرمختګ کړی . په جګړه کې پرمختګ شوی او د طالبانو او القاعده ځواک په کمېدو دی.»
په بیا کتنه کې ویل شوي چې د افغانستان په ډېرو برخو کې د طالبانود پرمختګ مخه نیول شوې او په ځینو سیمو کې طالبانو شاتګ کړی. خو په عین حال کې ویل شوي چې له طالبانو تصفیه شوي سیمې لا هم خطر سره مخ دي یانې که ساتنې ته یې پام ونشي او سمه دولتي اداره پکې رامنځته نشي ممکن بیا د دولت د مخالفانو لاسته ولوېږي.
د پنجاب په اړه اوباما خپلو څرګندونو کې ویلي: « پاکستان دې خپله خاوره کې د ترهګرو د خوندي ځالو او پناهځایونو د ویجاړۍ لپاره د هغوی پرضد جګړه تېزه کړي. ده وویل چې د پاکستان له لوري شوی پرمختګ په کافي اندازه چټک نه دی. نوموړي په عین حال کې د قبایلي سیمو په شمول د پاکستان په خاوره کې د سخت دریځو په وړاندې د پاکستان د هلوځلو هرکلی وکړ او ویې ویل: دا پرمختګونه پوره چټک نه وو، نو موږ پر پاکستاني مشرانو فشار راوړو چې خپله خاوره کې د ترهګرو پناهځایونه له منځه یوسي»
ده همداراز وویل: «موږ ته پکار ده چې د تروریزم ریښو ته توجه وکړو، چې په اکثرو مواردو کې په افغانستان کې نشته.»
د امریکا پر ستراتیژۍ د دغه هیواد د متحدانو غبرګونونه هم د پامور دي. د ناټو عمومي منشي اندرس فوګ راسموسن وویل: « زموږ ستراتیژي مناسبه ده او موږ د هغې د اجرا لپاره ضروري منابع لرو. اوس موږ باید ترلاسه کړي بریاوې ټینګې وساتو او دا یقیني کړو چې هغه بېرته له لاسه ورنه کړو. دا یو ستونزمن کار دی، خو زموږ اراده کلکه ده.»
راسموسن همداراز وویل: «موږ په تدریجي ډول داسې شرایط برابروو چې افغان ځواکونه د ۲۰۱۴ کال تر پایه پورې د خپل ټول هیواد د امنیتي چارو مسوولیت په غاړه واخلي او نړیوال ځواکونه یوازې ملاتړ کوونکی رول ولري.»
د بریتانیا لومړي وزیر ډیویډ کامرون بیا خپل غبرګون کې ویلي: « د ولسمشراوباما په شان ، موږ هم ۲۰۱۱ کال ته د داسې کال په سترګه ګورو چې باید داسې پرمختګ پکې وکړو چې بېرته له لاسه و نه وځي او تلپاتې وي.»
د امریکا د مشرانو جرګې د بهرنیو اړیکو د څانګې مشر سناتور جان کیري خپله څرګندونه کې کاږي « موږ ته پکار ده چې په افغانستان او پاکستان کې خپلو پرمختګونو ته په رڼو سترګو وګورو او ریالستیک واوسو. زموږ ستراتیژي او منابع باید زموږ له هدفونو او اصلي ماموریت سره، سر وخوري چې په ټوله مانا د یوه بشپړدولت رامنځته کول نه دي بلکې هدف یې دا دی چې القاعده ماته شي او د امریکا پر متحدو ایالتونو بیا حمله ونه کړای شي.»
په پاکستان کې د امریکا سفیر کامرون مانتر وایي د وزیرستان د عملیاتو واک د پاکستان د پوځ په لاس کې دی.
همدارنګه د امریکا لوی درستیز ادمیرل مایک مولن، یوه ورځ وروسته له دې چې ولسمشربارک اوباما د افغانستان د جګړې بیا کتل شوې بڼه خپره کړې، کابل کې خبریالانو ته وویل «زه فکر کوم دا ډېره ممکنه ده چې د پاکستان پوځ به هدف لاس ته راوړي.» همدارنګه نوموړی خپلو خبرو کې زیاتوي چې د ترهګرو ادې او پټنځایونه په پاکستان کې دي.

په کابل کې د امریکا سفیر ایکن بیري هم چې له لوی درستیز مولن سره یې په خبرې غونډه کې څرګندوني کولې، وویل:« پاکستان کې د طالبانو د پناهځایونو موجودیت دلته په افغانستان کې د سولې او ثبات د راوستلو چاره سختوي.»

افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

بلخوا د افغانستان دولت په رسمي توګه په دغه رغول شوي ستراتيژۍ باندې د پامور څرګندونه نه دی کړی او طالبانو ويلي چې « د افغانستان لپاره د اوباما اعلان شوي ستراتيژي نه يواځې دا چې په پوځي ډګرکې ناکامه وه بلکې په ملکي او اداري برخو کې يې هم هيڅ لاسته راوړنه نه درلوده او

دغې ستراتيژۍ له اعلانه را په دې خوا ترنن پوري افغانستان کې د امريکايانو ټول پروګرامونه له شکست اوفضيحت سره مخ دي .»
د افغانستان او پنجاب لپاره د امريکا په رغول شوي ستراتيژۍ کې د افغانانو او افغان دولت دا يوه خبره چې د ترهګرو روزنغالي او اډې د پاکستان په خاوره کې دننه شتون لري او بايد هلته په نښه شي د پخوا په نسبت روښانه بيان شوی . نورو ستونځو او ننګونو ته هم اشاره شوې چې د پخوا برعکس دا ځل په څرګنده په ګوته شوي او خپل ځای کې د پامور دي. خو د ستونځو او ننګونو تش بيان او تفسير په درد نه خوري تر څو چې د هغو د حل لپاره ټاکلي او غوڅ اقدامونه ترسره نشي.
د امريکا د دفاع وزارت يا پينتاګون له شمېرنو سره سم سږ کال په افغانستان کې اتلس زره وسله والې حملې شوي، حال دا چې تېر کال ټولتال لس زره شپږ سوه وسله وال بريدونه شوي وو.
د پينتاګون له مالوماتو سره سم په دغو بريدونو کې له اتومات وسلو، راکټونو او لاسي بمونو کار اخيستل شوی دی.
دا حملې په داسي حال کې شوي چې امريکا د افغانستان د جګړې د انډول د بدلولو لپاره په دې کال کې دېرش زره نور عسکر افغانستان ته راولېږل خو عملاً د دوی احصاييه ښيي چې د حالاتو په بدلولو کې بريالي شوي نه دي.
سږکال په تېرو نهو کلونو کې د نړيوالو ځواکونو لپاره افغانستان تر ټولو خونړی وو. په همدې کال کې طالبانو د اوو سوو تنو په شاوخوا کې د ناټو سرتيري او افسران چې لږترلږه ۴۸۰ تنه يې امريکايان دي وژلي دي .
بلخوا لوېديځ کارپوهان وايي چې د ستراتيژۍ په بيا کتنه کې دېر پام وروستيو دوو مياشتو ته شوی چې امريکايي ځواکونو له افغان او خپلو نورو متحدو ځواکونو سره په هلمند او په تېره بيا کندهار کې دېرې سيمې له طالبانو تصفيه کړې.د ستراتيژۍ پر بيا کتنه هم په همدې دوو مياشتو کې غور شوی. له طالبانو پاکې شوي سيمې د طالبانو د بيا راتګ له خطر سره مخ دي او په دې سيمو کې افغان دولتي واک نه دی رامنځته شوی.
يا د پاکستان پوځ په جنوبي وزيرستان کې، چې د پاکستاني طالبانو مرکز وو، عمليات کړي خو په شمالي وزيرستان کې چې د افغان طالبانو مرکز دی، عمليات نه کوي.

همدارنګه پنجاب به وغواړي په نا مستقيمه توګه او يا د طالبانو په ژبه نوموړی ستراتيژي چې د تېر په خلاف دا ځل پکې په پاکستان کې د ترهګرو اډو شتون او په دې اړه د پاکستان سستو او نازړه اقداماتو ته اشاره شوې، بابېزه وځلوي خو که ريښتيا هم د يوشمېر افغان سياستوالو، شناندو او يو شمېر مرستاندويه ټولنو په اند پاکستان کې د ترهګرو اډو، افغانستان کې د اداري فساد او د افغان کمزوري اداري ته وړ پاملرنه ونشي، د ستراتيژۍ مثبت اړخونه به هم تر اغيز لاندې راشي او حالات به د ښه کېدو پرځای د بل لوی ناورين په لور پرمختيا وکړي.
تېره پنجشنبه د « چتم هوس » ځيرنيزي ټولنې په لندن کې وويل : افغانستان کې د بې عدالتۍ شتون دې هېواد کې د اوسني تاوتريخوالي لامل شوې او يو لوی « ستراتيژيک » خطر يې رامنځته کړی. ددوی د رپوټ له مخې افغان دولت او نړيواله ټولنه ددې بې عدالتۍ لامل ده. دا ټولنه خپل رپوټ کې يو شمېر لاسوندونه وړاندې کوي چې هغوی کې څرګندېږي څنګه يو شمېر زورواکان په بې انصافۍ سره د نورو ځمکې نيسي، خپل قبايلي او ګوندي رقيبان څنګ ته کوي او بنديانوي يې او افغانان اړباسي چې الې ګولې ته مخه وکړي.
اوس ددې وخت رسيدلای چې د افغانستان بحران د سيمه يځ لامل ياني په پاکستان کې د ترهګري اډو ړنګېدو او د پنجاب د سپين سترګۍ په وړاندې غوڅ اقدامات وشي. د بحران په کور دننه لامل اداري فساد ورک او روغه اداره په کار ولويږي. جنګي مجرمين او د انساني حقوقو غاصبان د قانون منګلو ته وسپارل شي.

پای

****

اخځونه :
ـ بېلا بېلې بريښپاڼې

افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ